## د اطلاع رسوني په برخه کې د ارشادو حج او اوقافو وزارت کلنی راپور:

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د تشکیلاتي جوړښت له مخې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د دیني چارو سکتور رهبري په غاړه لري، چې په څلورو پروګرامونو ( ارشاد، حج، اوقاف او اداري) کې خپلې چارې سمبالوي.

د ارشاد برخه:

ددې وزارت له مهمو برخو څخه دیني لارښووني، اسلامي دعوت، د شرعي احکامو په رڼا کې د مهمو مسایلو او موضوعاتو د حل او فصل او په عمومي توګه د دیني چارو تقویه کول او د هغې مدیریت دی، چې دا وزارت یې د خپلو اړونده ریاستونو له لارې په منظم ډول د مالي کال په اوږدو کې ترسره کوي. د خلکو د مکررو غوښتنو او د ټولنې د ضرورت په اساس د عامه افکارو د روښانتیا لپاره ارشاد، دعوت او موعظه حسنه لور ته سوق کول، چې یو له اسلامي اوامرو څخه ګڼل کیږي. په دې اړه د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د 1399 مالي کال په اوږدو کې 54 عنوانه د اخترونو او جمعې خطبې د جوماتونو د امامانو او خطیبانو له لورې د ټولنې په مهمو موضوعاتو لکه: سوله، د سولې اړتیا، ملي یووالی، د چاپېریال ساتنې اهمیت، د کرونا ویروس د مخنیوي په موخه دیني توصیې، دروغ، غیبت، د مسلمان ورو توهین، میلاد النبي د سولې پیغام راوړونکی، د انسان قاچاق، د سولې له مذاکراتو د بیا پیلېدو هرکلی، په تعلیمي مراکزو باندې د بریدونو حراموالی او په لسګونه نورو مهمو موضوعاتو باندې د ولس د عامه اذهانو د روښانتیا لپاره د علمای کرامو له لورې په مرکز او ولایتونو کې عامه پوهای شوی.

د اطلاع رسونې برخه:

په 1399 مالي کال کې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د اطلاعاتو د نشر په موخه له رسنیو سره د وزارت د فعالیتونو، لاسته راوړنو او په ملي مسایلو کې خپل دریځ څرګند کړی.

دغه راز د ارشاد، حج او اوقافو وزارت رهبري او ویاند د اطلاعاتو د شریکولو او د کرونا ویروس د مخنیوي په موخه 8 مطبوعاتي کنفرانسونه او له بېلابېلو رسنیو سره 33 ځانګړې مرکې ترسره کړي دي.

په مالي کال کې د لړم میاشتې په 28مه نېټه د وزارت په انګړ کې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په اړه د وزارت اړوند رییسانو، آمرینو او مشاورینو ته د پوهاوي ورکشاپ جوړ شو.

په 1399 مالي کال کې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت اړوند اطلاعاتو ته د غوره لاسرسي په موخه د دویمي او درېیمي واحدونو د اطلاع رسونې مسؤلینو لیست ترتیب او په ویب سایټ کې د آپلوډ تر څنګ اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسیون ته ولېږل شو.

همدارنګه په دغه مالي کال کې د غوره اطلاع رسونې په موخه مو د رسنیو له قدرمنو استازو سره واټساپ ګروپ جوړ کړ، چې له دې لارې هم د رسنیو له استازو سره اطلاعات شریکیږي.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

کمیسیون دسترسی به اطلاعات

**Islamic Republic of Afghanistan**

**Access to Information Commission**

## جدول گزارش دهی سالانه مرجع اطلاع رسانی ادارات

**تاریخ: 1399/12/4**

**مرجع اطلاع رسانی: وزارت ارشاد، حج و اوقاف**

| شماره | اسم متقاضی | جنسیت | | وظیفه | اداره مربوط/آدرس | تماس | نوعیت و موضوع تقاضای اطلاعات | نوعیت متقاضی | | تاریخ | | نتیجه تقاضای اطلاعات | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | مرد | زن | | | | | حکمی | حقیقی | تقاضا | اجرا | تهیه گردید | در جریان | رد گردید |
| ۱ | سید محمد عارف وزین | | | آمر ارشاد ولایت سمنگان | ریاست اوقاف | 0774402695 | نتیجه هیأت تفتیش در مرد ملاامامان خیالی | | ✓ | /11/28 1398 | /11/30 1398 | ✓ | | |
| ۲ | علي رضأ احمدی | | | خبرنگار | روزنامه افغانستان ما | | در مورد سهمیه فوق العاده 16 تن خبرنگاران | | ✓ | /11/20 1398 | /11/23 1398 | ✓ | | |
| ۳ | ذلگی | | | شغل آزد | شهر کابل | | فتوا در مورد یک دربند حویلی گروی | | ✓ | /4/8 1399 | /4/9 1399 | ✓ | | |
| ۴ | اداره شرکت الکوزی | | | شرکت | شرکت الکوزی | | ابراز نظر در مورد سه نسخه قرآن کریم | | ✓ | /1/3 1399 | /1/4 1399 | ✓ | | |
| ۵ | ریاست اطلاعات و ارتباط عامه | | | ریاست | ریاست اطلاعات و ارتباط عامه | 0202214251 | ابراز نظر در مورد احادیث نبوی و اصلاح آن | | ✓ | 7/1/1 399 | 9/1/1 399 | ✓ | | |

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

کمیسیون دسترسی به اطلاعات

AIC

**Islamic Republic of Afghanistan**

**Access to Information Commission**

| شماره | اسم متقاضی | جنسیت: مرد | جنسیت: زن | وظیفه | اداره مربوط/ ادرس | تماس | نوعیت و موضوع تقاضای اطلاعات | نوعیت متقاضی: حکمی | نوعیت متقاضی: حقیقی | تاریخ: تقاضا | تاریخ: اجرا | نتیجه: تهیه گردیده | نتیجه: رد گردیده | نتیجه: درحال اجرا |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶ | ریاست جمهوری | | | ریاست | ریاست جمهوری | | ابراز نظر در مورد حکم شماره 2310 ریاست جمهوری در خصوص کوید 19(کرونا) | | ✔ | 7/1/ 1399 | 9/1/ 1399 | ✔ | | |
| ۷ | صلیب سرخ | | | اداره بین المللی | اداره صلیب سرخ | | ابراز نظر در مورد مسوده دفن اموات به سبب ویروس کرونا | | ✔ | 29/2/ 1399 | 1/3/ 1399 | ✔ | | |
| ۸ | سفارت شوروی | | | سفارت | سفارت شوروی | | ابرار نظر در مورد اعمار مرکز تعلیمی در سفارت شوروی در کابل | | ✔ | 31/2/ 1399 | 2/3/ 1399 | ✔ | | |
| ۹ | وزارت امور داخله | | | وزارت | وزارت داخله | | ابراز نظر در مورد امنیت خطبأ و امامان مساجد | | ✔ | /3/26 1399 | | ✔ | | |
| ۱۰ | تقاضای مردم | | | | | | فتوا در مورد صدقه فطر ماه مبارک رمضان | | ✔ | 29/2/ 1399 | 1/3/ 1399 | ✔ | | |
| ۱۱ | کمیسیون دسترسی به اطلاعات | | | کمسیون | کمیسیون دسترسی به اطلاعات | | در مورد افراد که سهمیه فوق العاده دارد. | | ✔ | | /6/24 1399 | ✔ | | |
| ۱۲ | | | | | از طریق سیستم انلاین | | در مورد استقامت کاری وزارت | | ✔ | 6/6/ 1399 | 17/6/ 1399 | ✔ | | |
| ۱۳ | | | | | از طریق سیستم انلاین | | در مورد پروسه ناظمین حج | | ✔ | /4/12 1399 | | | | |
| ۱۴ | | | | | از طریق سیستم انلاین | | در مورد شهرت افراد که از سهمیه فوق العاده مشرف به حج شده اند. | | | 9/7 1399 | 7/11 1399 | ✔ | | |

**سایر فعالیت ها:**

| | ویب سایت | دیتابیس | سایر |
|---|---|---|---|
| ۱ | www.mohia.gov.af | | بنا بر تقاضای هموطنان عزیز از طریق تلفون به تعداد 591 تن از طریق تلفون به سوالات شان جوابات و رهنمای های لازم داده شده است. |

اسم مسوول مرجع اطلاع رسانی اداره :
نور آغا حقیار

فضل محمد حسيني
د اطلاعاتو او عامه پوهاي رياست سرپرست